محمد معصوم هوتک

۲۰۲۰/۱۲/۰۸

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښینی کندهاری

### پنځمه برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښیني کندهاري په باب څو پرله پسي لیکنې خپرې کړې. ځینو دوستانو راځخه وغوښتل چې که دا موضوع یو څه پسي پراخه سي، ښایي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نیستي کي مي دا ځېرنه د یوه کتاب په بڼه ترتیب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري لیکني او په دې باب د نورو خپرو سوو لیکنو ترمنځ مکررات وویني، د مهربانی له مخي دي د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دي وبخښي.**

م. هوتک

**د فرمان متن:**

"سیادت پناه سید نورمحمد شاه بسلامت باشند.

بعد آنکه کاغذ شما رسید احوال دانسته شد، باید که بهر صورت که بتوانید ملک کطون را بدست بیارید که بخوبی بازخواست شود. باقی خود شما بزودی بیایید که تدارک رفتن رفتن شما را بکنیم که بخیر شما بروید، که وقت میگذرد و هوا روزمره سرد میشود. و یک کاغذ بنام ملِک های ترین نوشته فرستادیم وسلام. (مهر محمد امین ۱۲۷۸ بر پشت مکتوب)"

دا فرمانونه د سید نورمحمد شاه کندهاري په کورنۍ کي د سید عبداللطیف اغا سره خوندي ول او علامه عبدالحي حبیبي ته ئې د استفادې له پاره سپارلي ول. علامه مرحوم دغه اسناد یو پنځوس کاله پخوا یعني د ۱۳۴۸ش کال د آریانا مجلې په درو ګڼو کي له تبصرو سره خپاره کړي دي.

په دې فرمان کي د ترینانو د ملکانو په نامه د یوه لیک یادونه هم سوې ده. ترینان د پښین د شاوخوا اوسېدونکي دي او د هرات په فوشنج کي د اوسېدلو سابقه نه لري. دغه راز د سردار محمد امین خان د واکمنی په قلمرو کي هرات شامل نه وو او ده په هرات کي د کوم چا د ګرفتارولو واک نه درلود. پښین چي په کندهار کي شامل وو، ځکه نو دده د واکمنۍ یوه برخه وه او دده حکم پر چلېدی.

د سردار محمد امین خان په یوه بل فرمان کي چي د کندهار د" حکام او سر رشته داران" په نامه صادر سوی دئ ،په هغه کي د کندهار په ښار او مربوطاتو کي ئې د سید نورمحمد شاه جایداد تعین سوی دئ او مالیه ئې معاف سوي ده. په فرمان کي داسي راغلي دي:

"حکم سرکار همایون والا شد آنکه:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

حکام و سررشته داران قندهار بالطاف شهریاری مسرور بوده بداند، که در خصوص جایگیر عالیجاه عزت دستگاه سیادت پناه سید نورمحمد شاه مرقوم میشود... و یک قطعه زمین خشکابهٔ پورشاه واقع محال پشنگ که از سنوات سابقه معاف و خارج جمع بود و یک قطعه زمین لوره زرخریدسیادت پناه موصوف تخمیناً صد جریب شصت در شصت قریب چمن زیارت شینغزی معه یک دهنهٔ نهر پاتاب نیز از حضور انور در بهرهٔ مشار الیه معاف و خارج جمع شد.... تحریر بتاریخ ۲۴ شهر محرم الحرام ۱۲۷۹..."

په دې فرمان کې راغلي نومونه تول د کندهار اړوندي سیمي دي:

پشنگ : مراد ئې پښين دئ چي دلایل ئې تاسي پورته ولوستل. که له پشنگ څخه مراد د هرات فوشنج وي، نو محمد امين خان به څرنګه د خپل حاکمیت تر قلمرو دباندي مځکو مالیه معاف کولای؟

لوره = لوړه : د کندهار ښار په جنوب او ختيځ کي د ترنک رود د پاسه د اوبو مجرا ته ويل کېدله. په پښين کي هم د لوړې په نامه يو ځای سته. علامه رشاد د" حافظ الملک حافظ رحمت خان برېښي..." د کتاب په ۳۴ مخ کي د پښين د لوړې رود په باب کښلي دي :" د پښين لوړه د يوه رود نوم دئ، د توبې له غرو راوځي، تر پښين او ښوراوک تېرېږي، د څاګي (چاغي) علاقي ته ځي،اوږده ئې ۲۵۰ ميله دي. لوړه ژوره ده، غاړو ته ئې اوبه نه خېژي، د پښين د ملوزو(مليزو) په برخه کي پر لوړه باندي د اوبو راکښلو يو لوی ماشين پروت دئ چي ډېرو ليرو ليرو مځکو ته اوبه رسوي."

**شين غزی:** په دغه نامه د کندهار ښار په جنوب ختيځ کي يو زيارت دئ چي وايي د مشهور صحابي ايوب انصاري ورور وو. دغه زيارت ته له ښکاپر دروازي څخه يوه لار غځېدلي وه چي د کندهار د عمومي مسلخ ( سلاخانه) او هندو سوز څنګ ته تېرېدله او پر زيارت باندي پای ته رسېدله. دغه زيارت يوه نسبتاً غټه تکيه درلوده او د زيارت ختيځ ته يوه پخوانی غونډۍ وه چي شاوخوا ئي د اوبو چمنان را تاو سوي ول. په دغو چمنانو کي ما (هوتک) د هېليو ډېر ښکارونه کړي دي. د شين غزي زيارت ختيځ ته يوه لار وتلي وه چي کلچابات ته رسېدله.د شين غزي زيارت شمال ختيځ ته د لوی بالاکرز کلی پروت وو.

دغه سيمه چي پخوا د اوبو چمنونه او نيزارونه او يوه برخه ئي کروندي وې، اوس د استوګني سيمه ده او ډېر پاخه کانګريټي کورونه پکښي جوړ سوي دي.

**پاتاو:** هغه لوی کانال وو چي د ښار له مرکز څخه تېرېدی او دکندهار د احمدشاهي ښار تر ودانېدلو پخوا کيندل سوی وو(۴۰).

او ددې استدلال وروستی دليل هغه خبر دئ چي د امير شيرعليخان د دورې په رسمي جريده شمس النهار کي د صدراعظم په توګه د سيد نورمحمد شاه د تقرر له اسيته خپور سوی دئ . په شمس النهار جريده کي ئې داسي کښلي دي:

**د خبر متن:**

"ترقی مدارج در افغانستان

قدیمان خود را بر افزای قدر
که هرگز نه بینی ز پرورده غدر

چونکه از عرصهٔ دراز منظور نظر کیمیا اثر بندگان اشرف امیر صاحب بهادر خلدالله ملکه چنان بود که اشخاصیکه از قدیم معروف خدمات بوده در انجام امور مأمورهٔ خود کوتاهی نورزیده اند و پیرامون آبیاری شجر بی ثمر غداری نه گردیده علی الدوام سر رشتهٔ اخلاص را از دست ندادند ترقی اوشان به مناسب جلیله کرده شود و نیز چونکه الحاق نظم و نسق مملکت به نسبت سابق زیاد گردیده ترقی و رفاهیت و امنیت رعایا به ظهور رسد بنا بر ظهور خیال مبارک به تاریخ ۲۵ ماه رمضان المبارک یوم دوشنبه سال ۱۲۹۰ ترقی اشخاص ذیل به مناصب رفیعه به ظهور رسید.[ اعنی ] عالیجاه رفیع جایگاه عزت و سعادت دستگاه سیادت پناه سید نور محمد شاه صاحب را که عرصهٔ دراز سرگرم خدمات شایستهٔ دولتی بوده در انجام امور مأمورهٔ خود حتی الوسع دریغ نفرموده و نیز شخص نجیب الطرفین از اعاظم سادات پشین متعلقهٔ قندهار و ملازم قدیم این سلطنت و در دیانت و لیاقت ممتاز بوده به عهدهٔ رفیعهٔ جلیلهٔ صدراعظم و مختار الملک دولت افغانستان مقرر نموده به خلعت فاخره سرافراز نمودند. ترجمهٔ القاب اوشان در زبان صلابت بنیان افغانی" لوی تول مختار" است."(۴۱)

له دغو څېړنو څخه په پوره ډول څرګندېږي چي د هرات له فوشنج سره د سید نورمحمد شاه صدراعظم تړل يوه تېروتنه ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

## د سید نورمحمد شاه سیاسي ماموریتونه:

### د امبالي کنفرانس:

د هند وایسرا لارډ مایو (۴۲) په ۱۸۶۹م کي امیر شیرعلیخان د دوستانه اړیکو د ټینګښت په خاطر د خبرو له پاره امبالې (۴۳) ته دعوت کړ. هند ته د سفر په ټاکل سوي هیئت کي پر امیر او صدراعظم سید نورممد شاه سربېره جنرال حسین علیخان، ارسلا خان، عصمت الله خان، میرزاه محمد نبي خان دبیر، شاغاسي شیردلخان او د امیر کوچنی زوی شهزاده عبدالله جان چي تازه د ولیعهد په توګه ټاکل سوی وو شامل ول. له دوی سره یوه فرقه عسکر هم ملګري ول (۴۴).

د امیر په ګډون دا کنفرانس د همدي کال د مارچ پر ۲۷مه پیل سو. د کنفرانس د پرانیستلو په ورځ او د افغانستان له خوا امیر شیرعلیخان او صدراعظم سید نورمحمد شاه او د انګرېزانو له خوا د هند وایسرا او د ملکي ویکټوریا استازي لارډ مایو، د هند لوی سپهسالار لارډ نیپر او د هند خارجه وزیر اوسیتن کار په غونډه کي حاضر ول خو د کنفرانس نوري غونډي د صدراعظم سید نورمحمد شاه او د هند د خارجه وزیر سیتن کار تر منځ د ډاکټر بیلیو (۴۵) په ترجماني وسوې. سید قاسم رشتیا په افغانستان در قرن نزده (۲۵۲مخ دوهم چاپ) کي او دغه راز ځیني نور منابع هم د امبالې په کنفرانس کي د ترجمانی وظیفه د ډاکټر ګرې بولي چي تېروتنه ده.

ډاکټر ګرې پخپل کتاب کي ددغه شان مهم ماموریت هیڅ یادونه نه لري. بله دا چي هندوستان ته د ډاکټر ګرې اول وار سفر د امبالي تر کنفرانس نولس کاله وروسته په ۱۸۸۸م کي پېښ سوی وو.(۴۶)

د امبالي کنفرانس پنځه ورځي دوام وموند. مرحوم عطایي کښلي دي : په دغه کنفرانس کي " امیر په صراحت سره وویل چي د انګرېز ترونونه ټول یوجانبه دي او دا نقیصه باید رفع سي.ده د جمروډ لومړی ترون چي په ۱۸۵۵م کي دده له پلار سره سوی وو په مثال کي یاد کړ او وې ویل ددغه ترون په دریمه ماده کي لیکل سوي دي چي خټیځ هند د کمپنۍ دوستان به د امیر دوستان او د کمپنۍ دښمنان به د امیر دښمنان وي، په داسي حال کي چي دا باید بالمقابل وای یعني د برتانوي هند طرف هم دغسي مسئولیت اخیستی وای."(۴۷)

عطایي زیاتوي چي" په دې وخت کي سید نورمحمد شاه له خپلي دوسیي څخه یوه طرحه ور وړاندي کړه چي د امیر دوست محمد خان د وختو د قراردادونو دغسي یوجانبه برخي ئې اصلاح کړي وې او هم ئې د انګرېز له طرف څخه غوښتي وه چي د امیر شیرعلي د زوی عبدالله جان ولیعهدي قبوله کړي."

خو لارډ مایو دا طرحه ونه منله. امیر له دغه کنفرانس څخه تش لاس هیواد ته ستون سو. خو انګرېزي مقامات د امیر شیرعلیخان او د هغه د دانشمند صدراعظم له صراحت او جرئت څخه تکان وخوړ او د امیر پر وفاداری مشکوک سول. له همدې ورځي څخه ئې د امیر پر ضد د توطئو پراخه شبکه فعاله کړه.

د ډاکټر بیلیو له خولې ویل سوي دي چي په دغه کنفرانس کي امیر او د افغاني هیئت نورو غړو درېشی اغوستي وې یوازي سید نورمحمد شاه په وطني ملي جامو کي ناست وو. د مجلس په اوږدو کي چي به امیر خبره وکړه ، سید نورمحمد شاه به سمدلاسه د هغه مطلب په ډیپلوماتیکه ژبه داسي توضیح کړ چي انګرېزانو به لا هم دده پر سیاسي بصیرت آفرین ووایه.(۴۸)

علامه رشاد کښلي دي:" د سید نورمحمد شاه پنځه ورځي مسلسل اصرار او کوښښ و نکرای سوای چي انګرېزان د پښتني پیشنهاداتو د یوې مادې منلو ته حاضر کړي او دا کنفرانس ناکام سو." (۴۹)



له کیڼ لوري : ډاکټر بیلیو ( ترجمان)، امیر شیرعلیخان،ډګروال چمبرلین
ولاړ : ډګروال فریدریک پالک، امباله ــ ۱۸۶۹م



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځېر و لولئ



ولاړ له کيڼ لوري: ډاکتر بيليو ( ترجمان)، شاغاسي شيردلخان، سيد نورمحمد شاه صدراعظم، سر فريدريک پالک
ناست له کيڼ لوري: سر کرافورډ چمبرلين، امير شيرعليخان،سر دونالډ کېمبل ميکناب. امباله ــ ۱۸۶۹م

## د پنځمې برخې لمنليکونه:

۴۰ــ سيد عبداللطيف چي د شمس النهار له خبر پرته ئي نور دغه اسناد د زماني له آفاتو څخه خوندي ساتلي ول، د هغو خانداني شجرو له مخي چي زما (هوتک) سره سته، د سيد عبدالرسول زوی د سيد محمدشاه لمسی او د سيدنورمحمد شاه صدراعظم کړوسی وو او په کندهار ښار کي اوسېده . د سيد عبداللطيف دوه زامن سيد عبدالرؤف او سيد عبدالودود پاته سوي دي . سيد عبدالرؤف ئي وفات سوی دئ.
۴۱ــ دغه خبر د کندهار مجلي د ۱۳۴۱ش کال د سنبلي ګڼي په ۹ ــ ۱۰ مخونو کي د علامه رشاد مرحوم په ليکنه کي هم ثبت دئ.
۴۲ــ ريچارډ بورک مايو- Richard Bourke Mayo(1822-1872)- د برتانوي هند وايسرا او ګورنر جنرال او د انګلستان د محافظه کار ګوند مهم غړی وو. دی تر ملکي او صدراعظم وروسته دريم قدرتمن سړی وو. مايو په ۱۸۷۲م کال په انډيمان جزيرو کي د يوه پښتانه په لاس چي شيرعلي اپرېدی نومېدی په چاړه ووژل سو
۴۳ــ امباله د هندوستان په هريانا ايالت کي يو ښار دئ چي د هند له پنجاب ايالت سره ګډه پوله لري.په دغه ښار کي په ۱۸۴۳م کال د برتانوي پوځ لويه چونۍ جوړه سوه.
۴۴ــ عطايي، ۹۵ مخ
۴۵ــډاکتر هنري والتر بيليو Henry Walter Bellew (1834 -1893) په هندوستان کي زېږېدلی برتانوی مامور وو چي په افغانستان کي ئي هم د ماموريت دوره تېره کړې وه. تر کال زيات ئي په کندهار کي د وليعهد سردار غلام حيدر خان په دربار کي د جنرال لمسدن په مشرۍ د يو هيئت غړيتوب درلود. بيليو د افغانستان د ژبو او کلتور په باب تاليفات لري
۴۶ــ جان الفريډ ګرې (John Alfred Gray) په وروسته کي د امير عبدالرحمن خان جراح ډاکټر وو. امير ته په ۱۸۸۹م د سر سالترپاين له خوا ور پېژندل سوی وو. ده په لندن کي هم د نقرس ناروغان معالجه کړي ول او له همدې امله امير هم د ځان د علاج له پاره ور سره وساته.
جان الفريډ ګرې افغانستان ته د خپل سفر داستان د (At the court of the Amir) په نامه کښلی او په ۱۹۰۱م کال له لندنه خپور سوی دئ. دده په باب ما (هوتک) پخپل کتاب " شين سترګي مستخدمين" کي نسبتاً مفصل بيان کړی دئ.
۴۷ــ عطايي ۹۵مخ
۴۸ــ عطايي ۹۶مخ
۴۹ــ کندهار مجله، د ۱۳۴۱ش کال د سنبلي ګڼه، ۱۰ مخ

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ